هفته نامه
# تحصیلات عالی

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۳۲۵
وب سایت وزارت: www.mohe.gov.af
آدرس الکترونیکی: info.pr@mohe.gov.af

شماره یکصد و پنجاه یکم- سال هشتم- دلو -۱۳۹۸ه. ش

## کار باز سازی مقبره علامه سید جمال الدین افغانی آغاز شد



## د افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې لوړو زده کړو وزارت پورې اړوند دوه نوې مقررې تایید کړې



# د افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې د لیسانس دورې د زده کړو او د لوړو زده کړو وزارت د دندو د تنظیم مقررې په پرنسیب کې تایید کړې

د کابینې یاده غونډه ماښام د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني تر ریاست لاندې د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې ترسره شوه.



د اجنډا مطابق د عدلیې وزیر د لیسانس دورې د زده کړو مقرره او د لوړو زده کړو وزارت د دندو د تنظیم مقرره جلسې ته وړاندې کړې، چې د کابینې لخوا په پرنسیب کې تصویب او د عدلیې او لوړو زده کړو وزارتونو ته دنده وسپارل شوه ترڅو د وړاندې شویو نظریاتو له مخې د مقررو طرحې نهایي کړي.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر او علمي مرستیال پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي د لیسانس دورې د زده کړو مقررې د طرحې محتویاتو په اړه وویل: «دا طرحه د لوړو زده کړو د ملکي قانون یو اویایمې مادې پر اساس جوړه شوې، چې د لاندې موخو درلودونکې ده: د لوړو زده کړو موسسو د محصلانو معیاري زده کړې، د زده کړو سیستم معیاري کول، د محصلانو د فعالیتونو پراختیا، ځواکمنتیا او وده، د محصل محورۍ د تحقق لپاره لاره برابرول، لوړو زده کړو موسسو کې د دولسم او څوارلسم ټولګیو د فارغانو شمولیت تنظیمول، د محصلانو د تبدیلۍ اړوند چارو تنظیم او لوړو زده کړو موسسو کې د اکاډمیک ثبات تأمینول».

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د لوړو زده کړو وزارت د دندو د تنظیم مقررې د طرحې په هکله داسې وویل: «د قانون حاکمیت، د أداري سم مدیریت، د لوړو زده کړو د تحصیلي نظام د پرمختګ لپاره د لوړو زده کړو وزارت د فعالیتونو د جریان تنظیم، د کمیت د ودې لپاره زمینه برابرول او په دولتي او خصوصي لوړو زده کړو موسسو کې علمي تاثیر لرونکي څېړنې، د استخدام د تګلارې ښه والی او د اداري اصلاحاتو تطبیقول د نوموړې مقررې له اهدافو څخه دي».

# ٤ زره ۹سوه ۸۵ تنه محصلین د کابل پوهنتون له ۲۱ پوهنځیو څخه فارغ شول

د تحصیلي نظام د کیفیت او د محصلانو د مهارتونو لوړول د لوړو زده کړو وزارت د پروګرامونو په سر کې ځای لري.

دغه مطلب د لوړو زده کړو سرپرست وزیر او علمي مرستیال پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي د کابل پوهنتون د محصلانو په فراغت غونډه کې بیان کړ.

په هغې غونډه کې چې کابل پوهنتون کې په همدې مناسبت جوړه شوې وه، د کابل پوهنتون رئیس او د لوړو زده کړو په چارو کې د ولسمشر سلاکار پوهنمل حمیدالله فاروقي، په مطبوعاتي چارو کې د ولسمشر سلاکار محمد نبي مصداق، د کابل پوهنتون مرستیالانو، د مختلفو پوهنځیو رئیسانو او استادانو، فارغانو او د هغوی کورنیو هم ګډون کړی و.



د لوړو زده کړو سرپرست وزیر او علمي مرستیال پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي فارغانو او د هغوی کورنیو ته د مبارکۍ په ترڅ کې د نوموړیو فراغت یوه لویه لاسته راوړنه وباله او ویې ویل: «د محصل او پوهنتون اړیکه د مور او اولاد اړیکې ته ورته ده، لکه څنګه چې میندې په خپلو اولادونو ویاړي، پوهنتونونه هم په خپلو فارغو شویو محصلانو چې د ټولنې په مختلفو برخو کې فعالیت لري ویاړ کوي.»

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر فارغان خپلو مسؤلیتونو او رسالتونو ته متوجه کړل او ویې ویل: «افغانستان زموږ د ټولو ګډ کور دی او باید په ژمنتیا او ریښتینولۍ سره خپلې دندې سرته ورسوو، یواځې د فراغت سند... (۳ صفحه)

# ٤ زره ۹سوه ۸۵ تنه محصلین د کابل پوهنتون له ۲۱ پوهنځیو څخه فارغ...

په درلودلو سره باید اکتفاء و نه کړو او په هغه ځانګوکې چې تاسو ته یې مسؤولیت درکول کیږي، خپل تخصص، قابلیت او وړتیا وکاروئ.»



ښاغلي بالاکرزي د لوړو زده کړو وزارت لاسته راوړنو ته په اشارې سره وویل، چې د تحصیلي نصاب بیا کتنه، بهرنیو بورسونو ته د استادانو او محصلانو لیږل، د پوهنتونو د کیفیت د تضمین برنامه یې کېدل، د تقنیني اسنادو غنامندي، د هیواد په لویو پوهنتونو کې د ماسترۍ ګډو پروګرامونو جوړول، د پوهنتونو د علمي څېړنو مرکزونو ته توجه کول، د زده کړه ییزو پروګرامونو الیکترونیکي کول او د تحصیلي زیربناوو پراختیا له هغو مواردو څخه دي چې د محصلانو د مهارتونو په لوړولو کې مثبت اغیز لري.

د کابل پوهنتون رئیس او د لوړو زده کړو په برخه کې د ولسمشر سلاکار پوهنمل حمیدالله فاروقي ددې دورې محصلانو فراغت د ټولنې او هیواد لپاره یو لوی ویاړ وباله او هغوی ته یې داسې وویل:

«ستاسو د پوهې لاسته راوړنه په همدې ځای نه ختمیږي بلکې د علم او پوهې تحصیل تر مرګه پورې دوام مومي او اوس تاسو په خپلو نویو زده کړو سره له مخکې زیات په ټولنه کې پرمختګ وکړئ او له دغو زده کړو څخه مو په ټولنه کې مثبت بدلون رامنځته کړئ.»



د کابل پوهنتون رئیس زیاته کړه چې د یوې ټولنې پراختیا او پرمختګ د ټولنې د زده کړیالانو او پوهانو په لاس کې وي او تر څو چې په ټولنه کې مسلکي او متخصص پوهان راپیدا نشي، پرمختګ ناممکن دی.

هغه همدارنګه وویل چې په دې ډګر کې علمي او اکاډمیک مرکزونه او بنسټونه ډېر لوی رسالت لري.

په مطبوعاتي چارو کې د ولسمشر سلاکار محمد نبي مصداق د جمهور رئیس پیغام قرائت کړ او ویې ویل، چې د علمي بنسټونو فارغان د خلکو او ټولنې په وړاندې زیات مسؤولیتونه لري او هغوی باید کوښښ وکړي چې د هیواد په پرمختګ او آبادۍ کې خپل رغنده رول ولوبوي.

د کابل پوهنتون د محصلانو د چارو مرستیالې پوهنوال دوکتور تفسیره هاشمي په وینا، په دغه دور کې ٤ زره ۹ سوه او ۸۵ تنه محصلین ددې پوهنتون له ۲۱ پوهنځیو څخه فارغ شوي دي.




د پروګرام په پای کې د لوړو زده کړو وزارت او کابل پوهنتون د رهبرۍ هیئت فارغانو ته ستاینلیکونه ورکړل.

# کار باز سازی مقبره علامه سید جمال الدین افغانی اغاز شد

کار باز سازی و نو سازی مقبره علامه سید جمال الدین افغانی در پوهنتون کابل آغاز گردید.



محفلی که به این مناسبت در پوهنتون کابل دایر گردید، قانونپوه سرور دانش معاون دوم ریاست جمهوری، پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی سرپرست وزارت تحصیلات عالی، محمد جواد پیکار سرپرست وزارت شهر سازی و اراضی، حسینه صافی سرپرست اطلاعات و فرهنگ، پوهنمل حمیدالله فاروقی رئیس پوهنتون کابل و مشاور رئیس جمهور در امور تحصیلات عالی و آصف صدیقی نائب دوم مشرانو جرگه حضور داشتند.

قانونپوه سرور دانش معاون دوم ریاست جمهوری ضمن قدردانی از این اقدام نیک، در قسمت بازسازی مقبره سید جمال الدین افغانی پیرامون ابعاد مختلف شخصیت و آثار وی معلومات ارایه نموده گفت: "افغانستان کشوری تاریخی است و مهد پرورش رجال برجسته و دانشمندان نام آور بوده که یکی از این نام آوران نابغه شرق علامه سید جمال الدین افغان می باشد. وی از جمله بیدار گران جهان اسلام و در دنیای شرق و غرب آن زمان آوازه جهانی داشت".



معاون دوم ریاست جمهوری با ابراز اینکه در سال های اخیر دولت و مردم افغانستان در مورد افکار و آثار علامه سید جمال الدین افغان کمتر توجه نموده اند، از پوهنتون کابل و سایر نهاد های علمی و پژوهشی خواست تا در زمینه معرفی بیشتر و بهتر اندیشه ها و آثار وی کنفرانس های علمی و تحقیقی را برگزار نمایند.

استاد سرور دانش معاون دوم ریاست جمهوری همچنان گفت: "امیدوار هستم همان طور که امروز آرامگاه شادروان سید جمال الدین افغانی را احیا و بازسازی می کنیم؛ بتوانیم روزی اندیشه های والای وی را نیز احیا کنیم و از انوار افکار او برای زندگی امروز و یافتن راه حل مشکلات خود بهره بگیریم.

به گفته مسوولان، کار بازسازی مقبره سید جمال الدین افغانی با هزینه ی ۲۱ میلیون و ۵۰۰ هزار افغانی از بودجه وزارت شهرسازی و اراضی پرداخت می گردد که شامل دیوار احاطه، لندسکیپ، ترمیم گلدان ها، ترمیم حوض آب و مرمت مقبره می باشد و الی اخیر سال ۱۳۹۹ تکمیل خواهد شد.

قابل ذکر است علامه سید جمال الدین افغانی به تاریخ ۲۵ عقرب سال ۱۲۱۷ خورشیدی در شهر اسعد آباد ولایت کنر چشم به جهان گشود و به تاریخ ۱۹ حوت سال ۱۲۷۵ خورشیدی به عمر ۵۹ سالگی در اثر بیماری در کشور ترکیه وفات نموده به خاک سپرده شد که سپس حدود ۷۶ سال قبل پیکر موصوف به افغانستان انتقال و در محوطه پوهنتون کابل دفن گردید.

پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی سرپرست وزارت تحصیلات عالی از جلالتمآب رئیس جمهور جمهوری اسلامی افغانستان، وزارت محترم شهر سازی و اراضی و از همه جوانب که در باز سازی مقبره علامه سید جمال الدین افغانی کوشش و تلاش خود را به خرچ رسانده اند به نمایندگی از خانواده اکادمیک کشور تشکری می نماید.

# سرپرست وزارت تحصیلات عالی با سفیر ایران مقیم کابل دیدار نمود


سرپرست وزارت تحصیلات عالی با سفیر ایران مقیم کابل دیدار نموده، روی گسترش روابط علمی میان دو کشور تاکید ورزیدند.

در این دیدار پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی معین علمی و سرپرست وزارت تحصیلات عالی به بهادر امینیان سفیر ایران خوش آمدید گفته روابط میان افغانستان و ایران را دیرینه خواند.

پوهنمل بالاکرزی ضمن شرح موفقیت های افغانستان در بخش ایجاد و گسترش نهادهای تحصیلات عالی افغانستان از نظر کمی و کیفی، از ایران به عنوان کشوری یاد کرد که نقش مثبتی در زمینه ارتقای علمی اعضای کادر علمی پوهنتون های افغانستان در بخش های ماستری و دکتورا داشته است. وی افزود که افغانستان حالا در پی ارتقای کیفیت نهادهای تحصیلات عالی خود است و به همین منظور در صدد تامین روابط علمی با کشورهای منطقه و جهان است.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی ضمن قدردانی از همکاری های کشور دوست و برادر جمهوری اسلامی ایران در قسمت بورسیه های تحصیلی به اعضای کادر علمی پوهنتون های کشور، مشکلات مختلف را که در ناحیه بورسیه های اعضای کادر علمی و ریاست ارتباط خارجه وزارت تحصیلات عالی با آن مواجه است با سفیر جمهوری اسلامی ایران شریک نمود.

متعاقبا دوکتور بهادر امینیان سفیر جمهوری اسلامی ایران وعده سپرد تا تمام مشکلات را با وزارت علوم و فناوری جمهوری اسلامی ایران شریک خواهد ساخت و سعی خواهد نمود تا هر چه زود تر حل گردد.



هکذا امینیان پیشنهاد نمودند که در تفاهم بسیار نزدیک با وزارت تحصیلات عالی روی طرح و سیستم کار نمایند که مدیریت بورسیه متمرکزتر گردیده و کوشش صورت گیرد تا از طریق سیستم متذکره هم در انتخاب کاندیدان شایسته کمک شود و هم بتواند به منظور انکشاف متوازن تمام ولایات افغانستان، نمایندگی تمام کشور در آن تمثیل گردد.

دکتور بهادر امینیان با شرح تجارب ایران در بخش گسترش فعالیت های علمی گفت که ایران علاقه مند است تا ضمن گسترش روابط علمی میان دو کشور در زمینه های علوم انسانی، مهندسی و طبی با افغانستان روابط گسترده داشته باشد.

دکتور امینیان به وزیر تحصیلات عالی پیشنهاد داد تا یک کنسرسیوم (Consortium) پوهنځی های طبی ایران و افغانستان برای پیگیری اهداف و برنامه های علمی میان دو کشورتشکیل شود و برمبنای آن هیات علمی هر دو کشور بتوانند تجارب و اندوخته های خود را باهم شریک سازند.

همچنان دکتور امینیان از ایجاد شفاخانۀ تخصصی در ولایت بامیان خبر داده در مورد انکشاف منابع بشری ماهر برای شفاخانۀ مذکور یادآوری نمود.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی ضمن قدردانی از نظریات سازندۀ ایشان خواهان شریک ساختن طرح های متمرکز سازی بورسیه ها و انکشاف منابع بشری ماهر برای شفاخانه تخصصی طبی در بامیان گردیده تا همکاران این وزارت آنرا با شرایط داخلی کشور عیار ساخته و در قسمت تطبیق آن اقدام صورت گیرد.

در این دیدارهر دو جانب به گسترش روابط میان پوهنتونی و علمی تاکید ورزیدند و علاوه کردند که از مجاری رسمی، روی توافقنامه نامه های علمی مجدداً کار خواهند کرد.

در پایان دکتور بهادر امینیان سفیر ایران در کابل از پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی معین علمی و سرپرست وزارت تحصیلات عالی دعوت به عمل آورد تا سفری به ایران داشته باشند و روی توافقنامه ها و سایرموارد مرتبط به حوزه روابط علمی میان دو کشور با مقامات ذیربط ایران تبادل نظر کنند که از سوی وزیر تحصیلات عالی پذیرفته شد.

# سرپرست وزارت تحصیلات عالی با رئیس پوهنتون امریکایی- افغانستان دیدار نمود

سرپرست وزارت تحصیلات عالی در نشستی با رئیس پوهنتون امریکایی - افغانستان و هیات همراه شان، در رابطه به امور اکادمیک، امور محصلان و زیربناها بحث و تبادل نظر نمودند.



در این نشست پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی معین علمی و سرپرست وزارت تحصیلات عالی گفت، که وزارت تحصیلات عالی از تمام نهاد های تحصیلی دولتی و خصوصی حمایت نموده و تلاش مینماید تا نهاد های تحصیلی کشور در مسیر ارتقای کیفی و معیاری سازی سیستم تدریس و آموزش گام های موثری بردارند.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی با اشاره به اینکه پوهنتون امریکایی افغانستان سند اعتبار دهی را از سوی وزارت تحصیلات عالی کسب نموده و یکی از بهترین پوهنتون های کشور است، خواستار اشتراک این پوهنتون در برنامه های شد که در این وزارت به منظور تحقیقات علمی، ارتقای اعضای کادر علمی، اعتبار دهی و انکشاف برنامه های علمی دایر میگردد.



سپس دیوید سیدنی رئیس پوهنتون امریکایی افغانستان با تشکری از حمایت وزارت تحصیلات عالی گفت، که این پوهنتون فعالیت های خویش را کماقی السابق به شکل نورمال و با تمرکز بالای ارتقای کیفیت تحصیلی ادامه داده و در زمینه تلاش می ورزد.

موصوف با یاد آوری از تشویشی که اخیرا در رابطه به اینکه گویا پوهنتون امریکایی افغانستان با مشکلات مالی مواجه است، اطمینان داد و گفت که پوهنتون امریکایی افغانستان با حمایت وزارت تحصیلات عالی و ایالات متحده امریکا، روی فعالیت های بیشتر اکادمیک کار مینماید تا خدمات بهتری را برای مردم افغانستان در عرصه تحصیلات عالی عرضه نماید.



در این نشست طرفین همچنان روی توامیت ها و همکاری های دوجانبه در راستای تطبیق برنامه های وزارت تحصیلات عالی صحبت نموده و بر تحکیم بیشتر روابط میان مسوولان وزارت و پوهنتون امریکایی افغانستان تاکید نمودند.

قابل ذکر است که پوهنتون امریکایی افغانستان در سال ۲۰۰۶ میلادی در کابل تاسیس گردیده و در حال حاضر دارای بیش از ۸۰۰ محصل می باشد که در رشته های مختلف مصروف تحصیل اند.

# د افغانستان د اوبو او هستوګنيز چاپيريال د څېړنو ملي مرکز تر نامه لاندې نوی رياست د لوړو زده کړو وزارت په اډانه کې جوړ شو

د افغانستان د اوبو او هستوګنيز چاپيريال د څېړنو ملي مرکز تر نامه لاندې نوی رياست د لوړو زده کړو وزارت په اډانه کې جوړ او دوکتور محمد وسيم اقبال يې د سرپرست په توګه ور وپېژندل شو.

په هغه ناسته کې چې په دې تړاو د کابل پولي تخنيک پوهنتون کې تر سره شوه، د لوړو زده کړو سرپرست وزير او علمي مرستيال پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي، د اوبو او انرژۍ سرپرست وزير خان محمد تکل، د کابل طبي علومو پوهنتون رئيس پوهاند وحيد الله مومند، د کابل پولي تخنيک پوهنتون رئيس پوهنوال محمد سعيد کاکړ او د مرکزي ادارو يو شمير رئيسانو ګډون کړی و.

د لوړو زده کړو سرپرست وزير او علمي مرستيال پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي د اوبو په برخه کې د څېړنو تر سره کول، د اوبو مديريت او په چاپيريال او اقتصاد د هغوی تأثيرات د هيواد له اساسي اړتياوو څخه وبلل او ويې ويل: «يو کال يا څه کم او زيات وشو چې د هيواد د اوبو د حوزو د څېړنو په طرحې باندې د علمي کادر غړو سره مو کار کول او په دې تړاو د نظرونو له تدوين وروسته د جمهوري رياست لوړ مقام ته مو وړانديز وکړ؛ چې له نيکمرغه ومنل شو او نن ورځ يې دادی کار پيليږي».

د لوړ زده کړو وزير وويل: « په هيواد کې د اوبو د سرچينو او د هستوګنيز چاپيريال په اړه د علمي څېړنو ځای خالي دی او افغانستان جدي اړتيا لري تر څو د اوبو په ۵ حوزو کې علمي څېړنې تر سره کړي او دغه څېړنې د اوبو او هستوګنيز چاپيريال د مديريت په زمينه کې د نړيوالو معتبرو ژورنالونو له لارې په نشر ورسوي».



پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي، د افغانستان د اوبو او هستوګنيز چاپيريال د څېړنو ملي مرکز نوی سرپرست دوکتور محمد وسيم اقبال د هيواد له علمي شخصيتونو څخه وباله او زياته يې کړه چې هغه د اوبو او هستوګنيز چاپيريال څېړنو په ډګر کې د تجربې لرونکی دی او له دې نه مخکې يې هم په علمي څېړنيزو چارو کې د لوړو زده کړو وزارت د مقام سلاکار په توګه وظيفه تر سره کوله.

د ناستې په اوږدو کې د انرژۍ او اوبو سرپرست وزير خان محمد تکل هم په دې مناسبت خبرې وکړې او ويې ويل چې د هيواد د اوبو مديريت په ډګر کې د څېړنو ترسره کول، د اقتصاد، کرنې او حتا د صحت په ډګر کې د پرمختګ او ترقۍ زمينه برابروي.

وروسته په علمي څېړنيزو چارو کې د لوړو زده کړو وزارت د مقام سلاکار او د افغانستان د اوبو او هستوګنيز چاپيريال د څېړنو ملي مرکز سرپرست دوکتور محمد وسيم اقبال د جمهوري رياست له مقامه او لوړو زده کړو وزارت څخه په مننې وړاندې کولو سره وويل، چې نوموړي له هيواد څخه بهر د اوبو د مديريت په لويو پروژو باندې څېړنه کړې ده او له هغو تجربو څخه په ګټې اخيستنې، په پوره جديت او رينښتينولۍ سره به خپل هيواد ته کار وکړي.

نوموړي زياته کړه: «په دريو څانګو کې به لکه د هيواد د اوبو او هستوګنيز چاپيريال مديريت د کيفيت او وړتياوو په اساس، توليداتو، څېړنو او د ملي ژورنالونو را منځته کولو او همدارنګه له نړيوالو معتبرو ژورنالونو څخه ددې مقالو نشرولو او په دې برخه کې د متخصصو څېړونکو تشويقولو او ورته زمينه برابرولو برخه کې به کار وکړو".

د ناستې په پای کې د لوړو زده کړو سرپرست وزير او علمي مرستيال پوهنمل عبد التواب بالاکرزي د جمهوري رياست د لوړ مقام د حکم په اساس، د ګډون والو په وړاندې محمد وسيم اقبال د اوبو او هستوګنيز چاپيريال د څېړنو ملي مرکز سرپرست په توګه رسماً معرفي کړ.

د يادونې وړ ده چې ډاکټر محمد وسيم اقبال د نوې دندې ترڅنګ به، په علمي څېړنيزو چارو کې د لوړو زده کړو وزارت د مقام سلاکار په توګه خپله دنده مخته وړي.

# لوړو زده کړو سرپرست وزیر د مرکزي پوهنتونو یو شمیر متقاعدو استادانو سره ولیدل

د مرکزي پوهنتونو یو شمیر متقاعدو استادانو د لوړو زده کړو سرپرست وزیر اوعلمي مرستیال پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي سره په لیدنه کې، د لوړو زده کړو موسسو علمي کادري غړو د معاش او امتیازاتو د نوې مقرري مطابق د خپل تقاعد د حقوقو د اداء کولو غوښتونکي شول.



د لوړو زده کړو سرپرست وزیر او علمي مرستیال پوهنمل عبد التواب بالاکرزي په پیل کې استادانو ته ښه راغلاست وویل او د استادانو د علمي خدمتونو له دوري څخه د یادونې او دا چې د کلونو زحمت او هڅو په اوږدو کې یې د هیواد ځو نسلونو ته ښوونه او روزنه ورکړې ده، له هغوی څخه ستاینه وکړه او زیاته یې کړه چې د استادانو د هر ډول ستونزو د لرې کولو لپاره مرستې او لاسنیوي ته چمتو دی.

د لوړو زده کړو سرپرست د استادانو د وړاندیزونو له اوریدو څخه وروسته، له هغوی څخه وغوښتل تر څو د هغوی له منځه دوه تنه د ټولو متقاعدو استادانو په استازیتوب، معرفي کړي او د لوړو زده کړو وزارت د بشري سرچینو له څانګې سره په همغږۍ د اړوندو ادارو څخه د استادانو د وړاندیز د لاسته راوړلو لپاره یوه کمېټه تشکیل کړي، تر څو موضوع د یو ګډ طرزالعمل په ترڅ کې تر څېړنې او تحلیل لاندې ونیسي.

په پای کې پریکړه وشوه تر څو د متقاعدو استادانو له ډلې، د لوړو زده کړو وزارت د بشري سرچینو له ریاست او د کادري غړو د علمي تقرر او ترفیعاتو له ریاست، د مالیې او عدلیې وزارتونو له استازو څخه یوه کمېټه تشکیل شي چې د متقاعدو استادانو او د هغوی د وروسته پاتې کسانو د حقوقو په اجراآتو باندې په اساسي ډول سره فکر وکړای شي.

# نشستی به منظور بهبود وضعیت لیلیه های پوهنتون های کشور دایر شد

به منظور بهبود وضعیت لیلیه های پوهنتون های کشور، امروز جلسه ی تحت ریاست سرپرست وزارت تحصیلات عالی دایر گردید.

پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی معین علمی و سرپرست وزارت تحصیلات عالی ضمن پیشرفت فعالیت ها در رابطه به حل مشکلات محصلان لیلیه های مرکز که در جلسه قبلی روی آن بحث صورت گرفته بود، گزارشات کاری مسوولان امور را استماع نموده هدایت داد تا خواست های محصلان لیلیه ها را در رابطه به تامین سهولت های انترنت و کانتین، و همچنان تدویر برنامه های فرهنگی و ورزشی برآورده نموده، روی انکشاف و نهایی سازی طرزالعمل بود و باش محصلان در لیلیه ها، کار نمایند.



سرپرست وزارت تحصیلات عالی تدویر برنامه های فرهنگی و ورزشی را در تقویت فرهنگ زندگی در لیلیه ها و رفع انواع مشکلات روانی و افسردگی موثر خوانده از مسوولان مربوطه خواست تا در همکاری با نمایندگان محصلان برنامه های موثر را در زمینه، راه اندازی نمایند.

سپس اعضای جلسه به شمول نمایندگان محصلان لیلیه ها، نظریات و پیشنهادات شان را در جهت تطبیق بهتر موارد یاد شده ابراز نمودند.

سرپرست وزارت تحصیلات عالی پیشنهادات یاد شده را مورد تائید قرار داده بر هماهنگی بیشتر میان محصلان و مسوولین در زمینه تاکید نمود.

# د لوړو زده کړو موسسو د اکاډمیکو چارو د فعالیتونو د څار او ارزونې لایحه د لوړو زده کړو وزارت د رهبري شورا له خوا تایید شوه

د لوړو زده کړو موسسو د اکاډمیکو چارو د فعالیتونو د څار او ارزونې لایحه او د اجراآتو د څرنګوالي پلان د لوړو زده کړو وزارت د رهبري شورا لخوا تایید شول.



دغه ناسته چې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر او علمي مرستیال پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي تر مشرۍ لاندې جوړه شوې وه، د خصوصي محصلانو چارو ریاست د څلورمې ربعې د فعالیتونو او لاسته راوړنو پریزینټېشن او د خصوصي محصلانو د معلوماتو د ثبتولو ډېټابیس چې د نوموړې ریاست لخوا جوړ شوی، تر بحث لاندې ونیول شول.
د لوړو زده کړو سرپرست وزیر وروسته له هغه چې رهبري هیئت د لوړو زده کړو موسسو د اکاډمیکو چارو د فعالیتونو د څار او ارزونې لایحه په پرنسیپ کې تائید کړه، د رهبري شورا له ټولو غړو یې وغوښتل تر څو خپل اصلاحي طرحې او وړاندیزونه د دې تقنیني سند د غني کولو په موخه په لیکلي بڼه اړوند ریاست سره شریک کړي.



پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي د اجراآتو د څرنګوالي پلان د طرحې په هلکه وویل چې د دې طرحې په پلي کولو سره به د وزارت په ریاستونو او دویمو واحدونو کې روڼتیا، حساب ورکونه او مسؤولیت منل د پخوا په پرتله لا پیاوړي شي.
د یادولو وړ ده چې د لوړو زده کړو موسسو د اکاډمیکو چارو د فعالیتونو د څار او ارزونې لایحه به له اصلاحاتو وروسته تر راتلونکو دوو اونیو ددې شورا غړو ته وړاندې کړای شي.

